# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| حقوق بشر | Human rights |
|---|---|


فرستنده: بسمل

۱۳ مارچ ۲۰۱۲

## دبایرن مېشتو افغانانو شدید احتجاج لیک



مورږ بایرن مېشتي افغانان په یوه خوله نه یوازې دپنجوایي پېښه په کلکه غندو، بلکې دعاملینو محاکمه یې د افغانستان له اساسي قانون سره سمه غواړو.

په دې هم ټینګار کوو، چې ددې وحشي پېښې عامل یو کس نه بلکې یو ګروپ دی دا هم زیاتوو، چې دا ګروپ بې له کوم هدایته پخپل سر داسي خونړی پېښه نه شي رامینځ ته کولای .

دپنجوایي له دردوونکې پېښې څخه دې نتیجې ته رسیږو، چې دامریکایي سادستانولخوامخکیني اعمال لکه دمړیو دګوتوغوځول ، په مړیوبولې کول اومسخرې یانورې ناروا چارې داهر څه دافغان ولس د غوسې پارولو په موخه وو ترڅوجګړه په لوی لاس پسې اوږده کړي دا ځکه، چې که جګړه نه وي نوبیا خو یې رقیبان ورته وایي ، چې اوس څه شی کوئ چې پراته یاست .

موږ په بلجیم کې دافغان کولتوري بهیرله غبرګون څخه په کلکه خپل ملاتړ اعلامووداودنړی په ګوټ ګوټ کې له ټولو فرهنګي ملګرو او کړیو څخه هیله کوو، چې خپل غبرګونونه په سولیز ډول وښیي .

موږ ددې درانه او نه زغموونکي غم په طرځ کې دشهیدانو درنوکورنیو ته تسلیت، جمیل صبر او شهیدانو ته فردوس جنت له پاک الله څخه غواړو، له ټول افغان ولس څخه هیله کوو، چې دملي یووالي لپاره اړین ګامونه اوچت کړي .

په قدرت سپړو . . . ته وایو، چې پردی کټ ترنیمو شپو وي ځکه خو له امریکا سره دستراتیژیک تړون په اړوند له سره سم فکر وکړئ .

دجرمني په بایرن آیالت کې مېشت افغانان